هفته نامه
دجهاد هنداره
مرات الجهاد
لومړي کال (۱۸) گڼه ۱۳٦۹ هـ ش کال دمرغومي (۲٦)مه

PROPERTY OF ACKU

دصدام حسین په نوم دبش پټ لیك رسوا شویدی

له واشنگټن څخه په یو خپورشوي خبرکي ویل شوي دي چي دامریکا جمهوررئیس دعراق دصدرصدام حسین په نوم هغه لیك افشا شوي چي په جینوا کي دهغه ترلاسه کولوڅخه دعراق دبهرنیو چارو وزیر انکارکړي ؤ.
ویل کیږي چي جورج بش په دغه لیك کي صدام حسین ته خبرداري ورکړي چي که چیري

۸۰ مخ

مجاهدینو دمزدوررژیم ۱۳۲ تنه پوځیان ژوندي نیولي دي

په اتم مخ کی

گوډاگي رژیم ۱۵۰ تنه خلقي منصبداران بندیان کړل

دکابل څخه رارسیدلي خبرونه وایي چي پدي وروستیو کي ۱۵۰ تنه منصبداران دنجیب دمزدوررژیم له خوا پدي تورچي له مجاهدینو سره اړیکي لري بندیان کړل .
پدي منصبدارانو کي نږدې ۱۳۵ تنه هوایي افسران دي .
رپوټونه زیاتوي چي دخلق اوپرچم دډلو ترمنځ په پوځ کي بدگماني زیاته شوي اوپوپرېل باندي حملي کوي.

دخلیج دلانجې په رابطه دالحاج حقاني پیغام:

په ټول اسلامي امت لازمه ده چې دخلیج دفتني په حل کې عاجل اقدام وکړي

۷ مخ

په لوگر کي دملحد رژیم بریدونه په شا وتمبول شول

درژیم قواوو دجدي په ۲۰ او ۲۱ مه نیټه پرله پسي له دریو خواوو څخه دمحمد آغې ولسوالي په آزادوسیمو برید وکړ چې دمؤمنو مجاهدینو دکلك مقاومت سره مخامخ شول اوله سختي ماتي وروسته شاتگ ته مجبوري شوي پدي نښتو کي درژیم ۲۱ تنه عسکر وژل شوي اوگڼ شمیر بي ټپیان شویدي خوتنه مجاهدین هم پدي جگړه کي ټپیان شول.

۷۰ جنگي بیړۍ او ۱۰۰۰ جنگي الوتکې په عراق باندې دحملې لپاره تیارې دي

په اووم مخ کی

زموږ ځواك دجهاد ټوت دی او دجهاد ټول ټوټونه زموږ ټوټونه دي

قوماندان انورخان دسرتاسري شورى په باب خبرى كوي :

دریم ,, مخ

تشویش امریکا ازافزایش احساسات ضد امریکایي درپاکستان

ایالات متحده بخاطر احساسات فزاینده ضدامریکایی درپاکستان به صدها امریکایی پیشنهاد بازگشت بوطن رانموده است .
رادیو صدای امریکا ضمن نشر این خبر علاوه نموده است که پاکستان ازائتلاف ضد عراق

۸۰ مخ

په پاکستان کې دامریکا دسفارت کار کوونکی واشنگټن ته غوښتل شویدی

نوای وقت دجنوری ۱٤:
دترلاسه شوی خبرله مخی په پاکستان کې دامریکا دسفارت له څلورتنو پرته ټول کارکوونکی واشنگټن ته غوښتل شوی دی.
داسی معلومه شوی چی په پاکستان کې دامریکا سفیر رابرټ اوکلی ته له امریکا څخه درسیدلی نوی هدایت په اساس پریکړه شوی چی له څلوروڵوړرتبه سفارتی کارکوونکو پرته دې نورټول دجنوری له ۱٥ نیټې څخه دمخه امریکا ته لاړشی.
خبرزیاتوی چی دامریکا دسفارت په هغو څلورلوړرتبه غړو کې چې په پاکستان کې به پاتی وی دامریکا سفیر رابرټ اوکلی ، پیوی اینجرز، دامریکا داطلاعاتی مرکز مشر لینډرکنگ اودسفارت یوه ښځینه کارکوونکی شامله ده .

جنگ به له دري ورځو څخه تریوي میاشتي پوري دوام ولري

څرنگه چی دخلیج دروغی جوړی کوښښونه کامیاب نه ښکاری نولویدیځو دفاعی مشاورینو پیش گویی کړی ده چی جنگ به له دری ورځو څخه تریوی میاشتی پوری دوام ولری خوصدام حسین خپل

۵۰ ,, مخ

سرمقاله

په خلیج کې څه پیښیږي ....؟

دخلیج کړکیچ دیوې خرفناکي چاودني حالت ته نږدې شوي ، نن دجنوري ۱٤مه ده – دجنوري په ۱۵مه هغه نیټه ختمیږي چې دملگروملتودامنیت شورې له خوا له کویټه دعراق دوتولپاره ټاکله شوې وه.امریکایان گواښونه کوي چي دعراق جمهوررئیس صدام حسین به دجنوري دشپاړلسمي لمرونه گوري ،صدام حسین هم وایي چي که جگړه پیل شي امریکایان به په وینو کي ولمبیږي ، داسرائیلو په نوم به دنړۍ په مخ کوم نوم اونښان هم پاتي نشي اوسویه به دعراق وي .په ژنیو کي دامریکا دبهرنیو چارودوزیرجیمزبیکر اوعراق دخارجه وزیر طارق عزیزخبري ډیري بدي ناکامي شوي.

۸ مخ

گورباچوف له حملی څخه منعه کړی

دلیتوانیا دجمهوررئیس غوښتنه له امریکی اونورو هیوادونو څخه

دلیتوانیا جمهوررئیس ښاغلی لینډبرجس ویلی دی چی امریکا اونورغربی هیوادونه دکویټ دازادولو لپاره دومره لاس اوپښی وهی خوله بلی خوا دبالتیك په ایالت باندی دروس له تیری څخه ځان نه خبر وی له فرانسوی تلویزیون سره په مرکه کی ده وویل چی غربی هیوادونه اوامریکا دلیتوانیا په خپلواکه ریاست باندی دروسی بریدونو اوتیریو په مقابل کی هیڅ قدم نه پورته کوی هغوی گورباچوف له تیری څخه ولی نه منع کوی هلته دپولیند پارلمان په لیتوانیا باندی دروس دپوځی

۸۰ ,, مخ

صبح پیروزي اوافغانستان درراديو هاي جهان

خپرونی بندی شوی

اتم مخ کی

دکابل رژیم سره دایران ددولت مرسته

دنړیوالوخبري اژانسونو له قوله ایران د۶۰ملیونو ریالو په ارزښت خوراکي مواداوجامي دکابل رژیم ته ورکړیدي .
دغه مرسته دایران دسرې میاشتې له خوا دتاییات په سیمه کي چي دافغانستان په پوله کي پروت دي دکابل رژیم مقاماتو ته ورکړل شویده.

خلیج گام په گام دیوي لویي فاجعي په لور

په اووم مخ کی

مسلمان چې ددنیا په هر کونج کې اوسي ، په هره ژبه چې خبرې کوي اوهر رنگ لباس اوجامه چې اغوندي ، یوه ډله اودیو امت برخه ده .

(الحاج حقاني)

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني

دتاسيس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

دانتخاباتو ناکامي اوپه نوې طرحه غوراوبحث

عبد الله

څوورځې دمخه دپاکستان صدراعظم نوازشريف دمجاهدينو مشرانو ته يوه ميلمستياکړې وه ، ددغې ميلمستيانه مخکې غلام اسحق خان ، مرزااسلم بيگ اونوازشريف دمجاهدينو دمشرانو سره ليدنې کتنې کړې وې ، دپاکستاني ورځپاڼو اونورو خپرونو په اساس ددغوليدنو کتنو دبحث موضوع دپاکستان لخوا په مستقله توگه دمجاهدينو اکمال کول اوپه سياسي برخه کې دمجاهدينو پروگرام نوي ابتکارات اوپه دې باب دلازمو اقداماتو اوعملي طريقو لټول وو داسې ښکاري چې دخليج کړکيچ اوپه نړيواله سطحه داساسي بدلونونو درامنځته کيدلو په وجه اودامريکا دمتحده ايالاتو اوپاکستان داړيکو دخرابوالي په علت پاکستاني مقامات ددې غوښتونکې دي چې دافغانستان مسئله هرڅه ژرحل شي خوالبته داسې حل شي چې په پاکستان کې ميشته مهاجرپه اطمينان اوخوښۍ سره خپل وطن ته ستانه شي .

ديوې سياسي دستگاه اوتشکل دمينځته راوړلولوماړې هڅه دروسانو دوتلو نه وروسته په راولپنډۍ کې دمشورتي شوراپه جوړولواو په دغې شوراکې درای گيرې په اساس دموجود مؤقت حکومت جوړولوهڅه وه ، خو په تأسف سره داحکومت دجهاد اومجاهدينو په زيان تمام شو ، اوکارېې صرف دلوکسو دفترونو دجوړولو اواخرې مادل موټرو کې ترگرځيدوراگرځيدلوپورې محدود پاتې شو ، دمامورينو اوکارکوونکو په مقررۍ اوټاکلو کې جهادي معيارونه له نظره وغورځول شول اوپه بيلابيلو برخو کې دفسادله امله داحکومت عملاً ډيرناتوان اوناکام ثابت شو ، دستونځو اومشکلاتو په زياتيدلوسره اودمخالفتونو دمختلفو پړاوونو دتيرولو نه وروسته مجاهدين دانتخاباتو په کولو سره سلا نشول ، ددغو انتخاباتو ابتدائي عملي کارفعلاً پيل شوی ، يعنې دهيوادزياترو برخو ته دنظارهيأتونه ليږل شوي خولکه څنگه چې وينو داطرحه هم په عمل کې دناکامۍ سره مخامخ وه ، داطلاعاتو مطابق زياترو هغو سيمو ته چې نسبي ارامي ده اويا يو واحد تنظيم يا قوماندان پرې پوره تسلط لري اصلاً دنظارهيات دداخليدلو نه ممانعت شوې دی .

په کنړونو کې چې دمخه هم انتخابات ترسره شوي ځنې تنظيمونه يې پرنتائجو قانع نه دي داايراد موجوددی چې لومړۍ بايد دپخوانيو انتخاباتو شخړې حل شي ،لومړی بايد پخواني طرحې ته دعمل جامه ورواغوستل شي اوبيا به پرنويو انتخاباتو بحث کيږي ، پردې ټولو برسيره دمنتخبې لويې جرگې دجوړولو پر قانون هم زيات انتقادونه اواعتراضونه وجود لري ،لومړی خوداويل کيږي چې داقانون دمهاجرينو په برخه کې گونگ دی اولازم صراحت نه لري ، دوهم دا چې شيعه تنظيمونه په دغې طرحې باندې قناعت نه لري دريم داچې کوچيان هم داادعا لري چې دوی ته پنځه منل شوي حوزې ددوی سره واضح ظلم دی ، ځکه چې ددوی شمير ددې نه ډير زيات دی چې پنځه حوزې دې ورته ورکړل شي ، همدارنگه دتنظيمونوځينې مشران اساساً دانتخاباتو سره مخالف دی

په ۷ مخ

کابل درچنگال سردي وقحطي شديد

سميع الله تازه

شهريان کابل بازهم مانند سالهای گذشته وحتی بيشتر ازان درپنجه بيرحم رژيم کابل محکوم به فاقه کشی وتحمل سرمای استخوان سوز هستند طبق اطلاع مطبوعات شهرکابل راامسال زمستان بسيارسردی می فشارد که طی پنجاه سال اخير ازلحاظ برودت هوا وبارش برف بی مانند بوده است ودرجه حرارت ازطرف شب به منفی بيست درجه پايين امده است .

د رمناطق که شرايط وزمينه حياتی مساعد ميباشد برودت هوا چندان مساله مهمی نيست اما درشرايط چون کابل که ازدوسالباينطرف ازطرف مجاهدين درحال محاصره ميباشد وتمام امکانات زندگی بخصوص وسايل تسخين دراثر لجاجت رژيم بخاطر بقای قدرت بسيارکم ونادربوده ودرنتيجه نودونه درصد اين زمستان سرد رابا دست خالی استقبال نمودند.

چوب سوخت وديزل وبرق که وسايل تسخين شهرکابل اند درشرايط کنونی نهايت محدود وحتی کاملاً ناياب ميباشد چوب ازمناطق اطراف به اثر محاصره به شهروارد نميشود ، ديزل نيز هم دراثر حملات وکنترول مجاهدين برشهراه سالنگ وهم دراثر بحران درخود روسيه به مقداربسيار کمتر ازحد لازم بکابل وارد می گردد درصورت دستيابی فوق العاده گران وخارج ازقدرت خريد مردم عادی جامعه است .

برق نيز که امروز درحيات مردم کابل ازوسايل لکس بشمار ميرود وصرف ميتوانند اربابان قدرت ازان مستفيد گرد ند

بسيارناچيز به شهرميرسد زيرا وسايل برق رسانی ومنابع توليد برق يا تخريب شده ويا ازکارافتاده اند.

ازين جهت است که برفباری های سنگين که اخيراً برکابل صورت گرفت سبب مرگ ومير يکعده ازمردم فقيروبی بضاعت شهرکابل گرديده است .

ازطرف ديگريکی ازخبرنگاران ازکابل گزارش داده است که شهر سه مليونی کابل درکنار کمبود مواد تسخينی به کمبود مواد غذايی نيز مواجه شده است ورژيم اهالی شهررابااين دروغ می فريبد که گويا ذخاير کافی دارد اما به نسبت کمبود وسايل حمل ونقل وازجهت برفباری زياد نميتواند اکمال نمايد.

> شهرسه مليوني کابل درکنارکمبود مواد تسخيني به کمبود مواد غذايي نيز مواجه شده است ورژيم اهالي شهررابااين دروغ مي فريبد که گويا ذخاير کافي دارد اما به نسبت کمبود وسايل حمل ونقل وازجهت برفباري زياد نميتواند

خبر نگار مذکورازچشم ديد خود نوشته است که مردم صف های طولانی را بخاطر بدست اوردن نان وساير مواد غذايی ومواد سوخت تشکيل ميدهند ونانواها به نسبت کمبود ارد به مشکل بزرگ مواجه ميباشند.

خبرنگارمی افزايد صدراعظم رژيم گفته است روزانه دوصد تن ارد بيشتر به نانواها توزيع گردد تابه حل مشکل نان کمک شده باشد .

خبر فوق خود بيانگر وضع اسفناك اهالی شهر کابل است که مردم نه تنها درين زمستان سرد خودراگرم کرده نميتوانند خودوفاميل خودرا سدجوع نمايند بناء رژيم سه مليون انسان شهرکابل رابخاطر ادامه حکومت خود منحيث گروگان باخود گرفته انهارابه فاقه کشی وتحمل سرمای استخوان سوزمجبورساخته است.

درسال های گذشته نيز که رژيم باهمچومشکل مواجه بود درجه برودت وحد بارش باين ميزان زياد نبوده لذا مردم ميتوانستند با سوختاندن شاخچه درخت های پارکها وکنارسرك خود وفاميل خودرا نيمه گرم سازند اما چون درطول تقريباً دوسال که شهرکابل درحال محاصره است تمام درختها وبته ها ازطرف مردم قطع گرديده وديگر امکانات بدست اوردن چوب به مردم عادی جامعه نمانده است .

اين تنها صاحب منصبان افراد خادواراکين رژيم دست نشانده روس اند که قدرت وامکانات دسترسی به همه چيزرادارند .

يکی ازمهاجرينيکه که جديداً ازکشورخارج گرديده است ضمن توضيح وضع اهالی شهرکابل درين زمستان سرد گفته است بسياری ازمردم دراثر سردی هوا وقحطی می ميرند رژيم به خادستان څارندي ، وعسکري خدمت می کند وهيچ کسی نيست ازوضع ناهنجار وبد بختی های مردم وارسي وبازرسي نمايد.

رژيم ارزومند است که صرف با تغير نام قبلی اش طرف قبول مردم واقع گردد اما مردم ــ چهره واقعی انهای راکه پدران برادران وفرزندان شانرا کشته خانه ، اراضی وکاشانه شانرا به ويرانی کشانيده اند خوب می شناسند وبه لباس های شان فريب نمی خورند.

قابل تذکراست که روسها بخاطر اينکه رژيم دست نشانده شان دربرابر فشارهای دوامدار مجاهدين مقاومت نمايد ازنگاه اسلحه ومواد غذايی وساير مايحتاج کمك می نمايد ، اما ازانجائيکه خودروسيه دراثر بحران سياسی شديداً به قحطی وکمبود مواد غذايی مواجه شده است تعداد زياد مردم روسيه ديگر مخالف اکمال رژيم کابل اند زيرا انها ادعا دارند که قبل ازاکمال رژيم کابل بايد کاخ نشينان کرملين درفکر صف های طولانی مردم دربرابر مغازه های خالی مسکو، لينگراد وساير شهرهای روسيه باشند يکی ازانتقاد گران سرسخت ادامه کمك روسيه به رژيم کابل بوريس يلتسين رئيس فدراسيون روسيه ميباشد وی گفته است که اربابان قدرت کرملين قبل ازانکه رژيم اله دست خود درکابل راکمك کنند بايد درفکر شکمهای گرسنه روسها باشند.

وضع فعلی درشهرکابل نشان ميدهد که ديگر روسيه نميتواند باصرفه جويی نان واب روسها چرخ شکسته رژيم کابل را بگردش نگهدارد چرخ رژيم دراثر سنگينی اسياب سنگ های جنگ درهم ريخته وريزش کمك های روس نيز بعدازين نخواهد توانست اين چرخ فرسوده شده رابه چرخش وادارد .

انچه رژيم دربرابر فشارهای فزاينده مجاهدين برکابل ميتواند اينست که سه مليون اهالی شهررابحيث گوشت دهن توپ وگروگان نزد خويش نگهدارد اما اين خدعه نميتواند درمدت طولانی کارگر باشد زيرامردم شهرکابل نيز اکنون درك ميکنند که رژيم موجب ادامه جنگ وسبب بدبختی وسياه روزی مردم افغانستان درمجموع ومردم شهرکابل بخصوص ميباشد .

د«الله ټايگر» مجاهدينو ۱۷ تنه هندي پوځيان ووژل

دالله ټايگر مجاهدينو دنيول شوي کشمير په ځينو سيمو کې په هندي پوځونو باندې دکاميابو بريدونو په نتيجه کې ۱۷تنه پوځيان مړه او ۷۷يې ټپيان کړيدی دنيول شوي کشمير څخه په رارسيدلو خبرونو کې ويل شوي دي چې دالله ټايگر ځوانانو دهندي پوځونو په مورچوهغه وخت بريدونه وکړل کله چې هندي پوځونو خپلې وسلې نوروډيپوگانو ته وړې په دې حمله کې دهندي پوځونو په ډزو باندې دالله ټايگر۳ قوماندانان شهيدان شول دالله ټايگر دگروپ مشري کبيرشاه کوله .

هلته دنيول شوي کشمير په باندې پوره نومې ځاي کې دکشمير (البرشين فرنټ) دگونددمجاهدينو له خواپه يوه بريد کې ۹ تنه هندي پوځيان مړه اود ۲۰ تنو خواوشاټپيان شويدی ددې حملې په نتيجه کې دلبريشن فرنټ يونوميالی قوماندان هم شهيد شوی دی دالله ټايگرد منابعو له مخې دمجاهدينو دکاميابو حملو په مقابل کې هندي پوځونه دکشمير زاړه اوواړه دخپلو ظلمونو نښې گرځوي .

زموږځواك دجهاد قوت دی اودجهادټول قوتونه زموږ قوتونه دي

محترم انورخان دافغانستان دجهاد دتکړه قوماندانو له جملی دی چی دکابل ولایت مربوط دجګدلك په سیمه کی دافغانستان داسلامی جمعیت قوماندان اودافغانستان دجهاد دقوماندانانو دسرتاسری شورا غړی دی نوموړی دکابل پوهنتون دژبو اوادبیاتو دپوهنځی فارغ اودثورله خونړی کودتا څخه دمخه یی په محمود طرزی لیسه کی دښوونکی په توګه وظیفه اجراکوله .

ده رسیدلی ولی بیا هم دتیرکال په نسبت سږکال دنجیب پرحکومت ډیرګرم عملیات روان دی ، په راتلونکی کی زموږتوقع ده ، چی قوماندانان نورهم په خپلو منځوکی سره متحد اویولاس شی ، ترڅو دنجیب ګوډاګی حکومت نسکورکړی په سیاسی برخه کی هم دمجاهدینو دمشرانو له خوا یوڅه کمزورتیا لیدل کیږی چی په دی برخه کی هم زموږغوښتنه داده چی لکه

«دهغي تعهد له مخي چي موږپه شوري کي کړي دي موږبه دقومي .ژبني اوتنظيمي ارتباطاتو په نسبت دشوري فيصلو اومنافعو ته ډيرارزښت ورکوو، زه يقين لرم چي داسلامي تنظيمونو ټولي فيصلي ـ داسلام داساساتو سره برابر وي

پوښتنه :- تاسو فعلاً دمجاهدینو نظامی اوسیاسی وضیعت څه ډول ارزیابی کوی؟

ځواب :- فعلاً څنګه چی سرتاسری شوراجوړه شوی ده ، خوداشورا په ابتدایی حالت کی ده اوخپل انتهایی حالت ته نه

څرنګه چی په نظامی برخه کی وحدت ضروری دی ، دغسی په سیاسی برخه کی هم یووالی مهم دی ، خلك هم دبی اتفاقی څخه ستړی شوی دی اوداوسنی وضعی څخه داسی معلومیږی چی انشاالله په سیاسی برخه

کی به هم یووالی رامنځ ته شی .

پوښتنه :- دعبوری حکومت دانتخاباتو طرحه څه ډول ارزیابی کوی ؟

ځواب:- دعبوری حکومت دانتخاباتو په برخه کی زموږشورا داسی فکرلری چی ددی شورا غړی دیوی خوا څخه دخپلو تنظیمونو پوری مربوط دی اودبلی خوا څخه دشورا پوری مربوط دی ، نوّموږهغه فیصلی چی په شوراکی کیږی ، په هغو عمل کوواوهمدارنګه هغه فیصلی چی دتنظیمونو له خوا کیږی ،هغه ته هم احترام لرو نوزما په نظرکوم تنظیمونه چی په انتخاباتو کی ګډون کوی ، دهغوی قوماندانان هم کیدای شی چی په انتخاباتو کی ګډون وکړی اویا دانتخاباتو په جریان کی دامنیت په برخه کی همکاری وکړی اودمولوی صاحب خالص دتنظیم قوماندانان چی دشورا غړی دی ، هغوی به په دغه انتخاباتو کی ګډون ونکړی ، ځکه چی دا انتخابات دمخه اسلامی حزب رد کړی دی.

مګربه عمومی ډول زما په نظر په دی وخت کی انتخابات لازم نه دی ځکه چی هوا ډیره سړه ده هیڅتونه به ونشی کړای

چی په افغانستان کی وګرځی اودانتخاباتو سمه نتیجه لاسته راوړی.

په نظامی برخه کی هم مجاهدین مجبوردی چی نظامی فعالیتونه کم کړی او دانتخاباتو دپاره موقع مساعده کړی چی داکارهم ددښمن په

زموږغوښتنه داده چی لکه څرنګه چی په نظامي برخه کي وحدت ضروري دی ، دغسی په سیاسي برخه کي هم یووالی مهم دی ، خلك هم دبی اتفاقي څخه ستړي شوي دي اوداوسني وضعی څخه داسی معلومیږي چی انشاالله په سیاسي برخه کی به هم یووالی رامنځ ته شي

ګټه دی اودبلی خوا څخه هغه مذهبی ، ژبنی ، قومی اوتنظیمی اختلافونه چی اوس بالکل په ختمیدو دی کیدای شی دانتخاباتو په وخت رابرسیره شی.

پوښتنه :- دقوماندانانو په شوراکی له کومه وخته راپه دی خوا غړیتوب لری اوایاداغړیتوب مو دخپل تنظیم درهبری په خوښه دی که نه ؟

ځواب :- زه دشورا دتاسیس له وخت څخه په دی شوری کی عضویت لرم اوتراوسه می داعضویت ثابت دی اوموږبه دی عقیده یو چی قوماندانان باید حتماً په خپل منځ کی یوه شوری ولری زه داپه ډاګه وایم چی انشاالله تراخروخت پوری به دی شوری ته وفاداریم اودا چی داکارد تنظیمونو په خوښه دی اوکه نه ؟ داپوره معلومه نه ده ځکه چی ټولو تنظیمونو

په ظاهرډول موږسره موافقه کړی ده اما په بیلوبیلو وختونو کی دتنظیمونو له خوا ځنی مخالفتونه هم لیدل شوی ، مګر په اصل کی زموږحرکت دتنظیمونو په خلاف نه دی اوزموږټول قوت به ددښمن په ضد استعمالیږی.

پوښتنه :- که ستاسو دتنظیم پریکړه دقوماندانانو دشورا له پریکړی سره متضاده وی ، تاسو کومی یوی ته ارځښت ورکوی ؟

ځواب :- زموږتنظیم اوزموږشوری دواړه اسلامی ارګانونه دی زه په دی یقین لرم چی ددوی فیصلی به داسلام داساساتو سره برابری وی اوهیڅکله به داسی نه وی چی یودبل په ضد واقع شی په هرصورت دهغی تعهد له مخی چی موږپه شوری کی کړی دی موږبه دقومی ، ژبنی اوتنظیمی ارتباطاتو په نسبت دشوری فیصلو اومنافعو ته ډیر ارزښت ورکوو، زه یقین لرم چی داسلامی تنظیمونو ټولی فیصلی به داسلام داساساتو سره برابرې وی.

پوښتنه :- دغه شوری دافغانستان دراتلونکی نظام اوقیادت لپاره کومه طرحه لری اوکه نه ؟ اودیوه واحد قیادت دجوړولو لپاره څه پروګرام ترلاس لاندی لری ؟

ځواب :- داشوری کوښښ کوی چی دجهاد په مشرانو فشارراوړی ترڅو په خپلو منځو کی یووالی وساتی اویوسم جهادی قیادت رامنځ ته کړی لیکن موږبه نظامی برخه کی یوه طرحه لرو اوپه هغی باندی موږکارکوو ترڅو ټول نظامی عملیات زموږدیوه واحد مرکزڅخه اداره شی ، په راتلونکی کی موږکوشش کوو، چی یوواقعی جهادی قیادت منځ ته راشی لکه څنګه چی په دی برخه کی دجهاد مشران اودافغانستان هره طبقه کوشش کوی ، نودشوری کوششونه به نسبت نوروته زیات وی .

پوښتنه :- تاسی دشورا دطرحو دموفقیت له پاره دتنظیمونو له مشرانواوولس څخه څه توقع اوغوښتنه لری ؟

ځواب :- څرنګه چی په دی شوری کی قوماندانان عضویت لری اوداشوری یوه نظامی شوراده نوموږڅوځلی دتنظیمونو دمشرانو سره لیدلی اوورته موویلی دی چی داشوری دهیڅ یوتنظیم اویا تنظیمونو په ضد نه ده ، اوموږداهم نه غواړو چی له دی شوری څخه یوه سیاسی رهبری جوړه کړواویاکوم سیاسی تنظیم جوړکړو په دی اساسی موږددوی ملاتړته ضرورت لرو ،زموږقوت دجهاد قوت دی

په(٦) مخ

موږبه په خپلو وينو دكشمير دآزادۍ تاريخ ليكو

دنيول شوي كشمير داسلامي جمعيت طلبه له كمكي مجاهد عبدالرحمن سره مركه:

دنیول شوي کشمیر مسلمانان هره ورځ داوراووینوپه دریاب کې لمبیږي هره ورځ راختونکی لمرد نیول شوي کشمیر دمظلومواوبې ګناه مسلمانانو لپاره له ځانه سره یونوی قیامت راوړي لیکن ددې هرڅه سره بیا هم دمسلمانانو ارادې اوچتې دي اودآزادۍ په مبارزه کې بوخت دکشمیر مجاهدین په یوه آوازیوې چغې ته لبیك وایي اودقربانیو نه ورانیدونکی تاریخ جوړوي .

داخبره دنیول شوي کشمیر څخه راغلی داسلامي جمعیت طلبه یوه کمکي مجاهدعبدالرحمن کړیده . دوه ورځې مخکې دنیول شوي کشمیر څخه راغلی ۱٤ کلن وړوکی خوداسلام په مینه مست مجاهدعبدالرحمن سره چې کله موږپه مرکه پیل وکړ

نوداوله یې په حیرانۍ کې واچولو ده وویل موږفقط دوه ورونه یو اوقبله ګاه صاحب مو په حق رسیدلی دی زه کوچنی یم اومشر ورورمې په کورکې دی مرکه په لاندې ډول ده:

پوښتنه :- تاسو څه شي جهاد کولو ته چمتو کړي یی ؟

ځواب :- موږبه دآزاد کشمیر له راډیو څخه په پروګرامونو کې داترانه اوریده (چې ویښ شی اې دکشمیر دوادي خلکو) اودغه شان نورې ترانې . له دې ترانو څخه په موږکې دجهاد جذبه پیداشوه اوددې څخه زیات دهندوستان له طرفه زموږپه میندو اوخویندو هغه

وحشیانه اوددونکو ظلمونو موږدې خبرې ته مجبورکړو چې پاڅیږو اودهغه ظالم مقابله وکړو چې په بې ګناه مسلمانانو باندې ظلمونه کوي اوبل زموږدمیندو اوخویندو هغه

اوهنددخپلووحشي عملونو له انجام سره مخامخ شي .

پوښتنه :- ته خوډیرکوچنی یې آیا موراو پلار دې دجهاد لپاره اجازه درکړې اوکه پخپله راغلی یې؟

موراوپلارله مانه غټ منصبدارجوړول غوښتل خوچې كله جهاد پيل شونوهغوی زه دغټ منصبداريرځاى دمجاهد جوړيدولپاره راوليږلم اوس به زما څخه انشاالله يوغټ مجاهد جوړيږي .

فریادې چغې وې چې زموږدهریوه زلمي په زړه کې یې داجذبه پیداکړه چې هغه ددې ظلمونوبدل واخلي .

ځواب:- ما خومخکې وویلې چې زما پلارمړدی اومورمې ژوندۍ ده موربې بې مې زه پخپله دکورڅخه راووینستلم

چې بچیه ! جهاد شروع دی ته هم دجهاد کولو لپاره زده کړه حاصله کړه ترڅو ددښمن په مقابله کې جهاد وکړې .

پوښتنه :- ترڅووم ټولګۍ پورې دې سبق ویلی ؟

ځواب:- زه په نهم ټولګۍ کې وم موراوپلارزما څخه غټ منصبدارجوړول غوښتل خوچې کله جهاد شروع شونوهغوی زه دغټ منصبدارپرځای دمجاهد جوړیدو لپاره راولیږلم اوس به زما څخه انشاٴ الله یوغټ مجاهد جوړیږي اوبیا به ځم .

پوښتنه :- په نیول شوي کشمیر کې داوسنیو حالاتو په هکله ستاسونظرڅه دی ؟

ځواب :- زه چې هلته داوسنیو حالاتوپه برخه کې څه وایم نوبدن مې ریږدي ځکه کوم ظلم دی چې په اوس وخت کې هلته نه کیږي ؟ هندوستان په نیول شوي کشمیر کې دپخوانیو ټولو ظلمونو داستانونه ترشا کړل اوپه نړۍ کې تراوسه پورې دتیرو شووظلمونو ریکارډ یې مات کړیدی هندي پوځیان په کورونو ننوځي اوزموږخویندې اومیندې دشکنجونښې ګرځوي اوغیرانساني سلوك ورسره کوي دهیڅ یوې خوراومورعزت اوآبرو خوندي ندی ، په وړواوزړو ظلمونه کوي دهریو کورڅخه چیغې اوفریادونه اوریدلې کیږي اوکه څوك ورسره مزاحمت کوي نودهغه سینه په ګولیو باندې غلبیل ، غلبیل شي کله چې هندي پوځونه خبرشي چې په کوم

پاتې نېمړم مخ

جهادي ادب

چــاهـیڅ نــه منله خود عصر قهرمان شومه
زه مثال دتوری ، قرباني په ټول جهان شومه
يادچی په «غـازي ميره» اتل شهيد افغان شومه
زه ژوندی تعبير دتیرعظيم عزت اوشان شومه

***** *** ***

درد دل

تازه.

شفق بگويمن !
چراهمچون من دلت پرخون است؟
حكايتيست ناگفته وياناشنيده ؟
وياندو هيست بزرگ؟
بگو ببينم اندوه تو بزرگست يا ازمن.
نخست بشنو ازدرد درونم !
دردلی شبی
دشمن سنگدل آن كلبه كوچك گلی ما
رادرآتش بم سوخت
درويـــرانـــه ان اثـــری ازمادر
عزيزترزجان ودخترنازم نبود
وهمچون ان سيزده تن ازهمسايكان
دژخيم «سرخ » بدن پدرم رادربرابر
فرزندانش شگافت
برادربزرگم بخاطر «الله اكبر» به
جوخه اعدام رفت
وزنده بگورگرديد
ازبرادركوچك وبرادرزاده ام شنيدم
كه فدای راه خدا شدند
وديگرهيچ
وانوزكه با همسر وپسرسينه چوش
ودختركوچكم سرگردان شدم
«كــركـــس »هــای خــصــم
ازهواندوعزيزدل راازمن گرفتند

اه ، خدايا پسرم هنوزبسيار كوچك
ومعصوم بود
واو صرف يك ونيم روزدرين دنيا
زيست
نيمه جان‌ووحشتزده سينه كشان
ازمعركه وارهـــيدم
قلب كوچك دخترم تاب ان همه
تلخی ها را نياورد
واين پدربی دست وپارابرای هميش
تنها گذاشت
شفق خونين رنگ!
تومی بينی كه من يك دست ويك
پاندارم؟
ايا دردواندوهم راميدانی ؟
توهيچگاه ان صحنه راديده يی
ان طفل معصوم گرسنه را
كـه دران دشـت تـنـهـا سـخـت
زارميگريست
وازما درشقه شقه شده اش سينه
می طپيد
وان صحنه ديگر
كـه تـيـردشـمـن سـيـنـه طـفـل
شيرخوارومادرش را
يكجا شگافته بود

ويا ان پدررا
كه درويرانه منزلش
بيهوده درجستجوی عزيزانش بود
خدايا!
زادگاهم وطنم ومردمم دراتش
بيرحم ظالمان سوخت
ادميان معصوم وخداپرست زنده
بگور
ويـا هـم ردوداتـش زنـده زنـده
سوختند
درغوغای همچو محشر زن ازشوهر
دختراز مادر
وپدر ازپسر ناپيداماند
قـلـبـهـای پاك طـفـلان ازهيبت
روزازتپش ماند
بسا پدران ومادران ازغصه فرزندان
جان دادند
عروسان ماه پيشانی ارمان وصال
عزيزان راباخود بردند
وبـسـا ان نـوزادان كـه ديـده نـا
گشوده ماند
بگو ببينم اندوه من بزرگست يا

ازتو ؟
شفق گفتا!
ادمی بگو ، ديگر بگو
وان ناگفته ها رابگو
وازان هزاران هزارديگر
ازغصه ها وغمهای فراوان ديگر
من ازسرخی خون ان شهدای پاك
رنگينم
وازغصه های فراوان انها
وان شهدای كه نشانی ازانها كس
نديد
خصم جفا ها كرد
بسا ناسزاها كرد
ودانم كه چی ها كرد
دانی! روزی فرامیرسد
كه ان ظالم نگون بخت
شرمساروسرافگنده
تاگويد جواب ان ظلم ها
وان جفا ها
دل مزن !
دل مزن كه اين همه غصه ها
پاداشی دارد عاقبت ها
تابازگردد ان همه شادمانی ها

تش په نوم انقلابي ته

سعيد جبر

ای دولس دارمانونو د سحـــر قاتـله
ای دښایست او دښکلا د هرمنظر قاتـله
ای دښادۍ د موسمونو ازلي دښمنه
ای دژوندون د هرسپرلي او هراختر قاتله
داستبداد نشه کښې دوبه ای مغروره واوره
دادميت د دنیاګه دزړه ناسوره واوره

ته که دظلم او دزور په شيش محل کښې ناست یې
ته که یرغل د پاره مونږ ته په بورجل کښې ناست یې
تا که دوېر او ژړا لوبه ګرمه کړې په مونږ
ته که زمونږ دخوارولو په تکل کښې ناست یې
ای دتعبیرلو په حریفه تخریب کاره واوره
ای دانسان دجمعیت لويه شوکماره واوره

ته که زمونږ دژوند سکون او اطمينان ته غل یې
ته که دخوار و دژوندون آباد جهان ته غل یې
ای دسو ـ ځې او شين ستر ګي استعمار وارثه
ته که دامن د منزل هر يو کاروان ته غل یې

ای دتهذيب د دنیاګی لويه دښمنه واوره
لويه غاصبه د دنیا لويه رهزنه واوره

ته که زمونږ د ژوندانه بقا ته نشې کتـــی
ته که د مینې او ښکلا دنیا ته نشې کتی
ته که د ژوند د تورو شپو په سر راجونه غواړې
ته که دخوار و د احساس رڼا ته نشې کتــی
ای دستم په خیال کښې ورکه ستمګره واوره
ای دځپل عصر د تاریخ لويه شمره واوره

نور مظلومان هم خپل مظلوم جهان ته نشې کتی
نور د سپرلي په طمع وران بوستان ته نشې کتی
ستا دستم په سر ولیبو کښې تــر قیدلی خلق
نور تر ابده سوی لوی ځان ته نشــي کتــی
ای دخزان د سره سیلی علمبرداره واوره
ای دغاصب په کور کښې لويه سره ښاماره واوره

داتګلونه به دې ګوره تېر ندی ـ شي درته
دغه خيالونه به سامان د بربادۍ شي درته
نور دستم په سر زيږخلي ځوګ قامونه نشي
داوحشيت به لوئې سبب دتباهۍ شي درته
داستحصال د قوتونو سرلښکره واوره
دانقلاب دتقاضونه ناخبره واوره

اوس به دپیزند دانقلاب هغه دوران وګوري
دسوروسامراج دوحشيت کورګي به وران وګوري

ورکي لاري

لنډه کيسه

سيدشهريار

مـــاســـــره اوس يو
ژوراحساس پيداشوی دی چی
اخر زه به دوی چيرته پيداكړم
اوزه به يی په كومووركو لارو
كی گورم دپيښورپه دی گڼو
اوپرنفوسه بازارونو اوكوځو كي
خوما تراوسه پوری ونه ليدل ،
اواخــر ددی نورپاتی درپه دره
اوپرديس قام سربه چيرته وځی
، اوترڅـــو پـوری به ددغــو
ســتـونزو اومـشكلاتو ســره
مخامخ وی داهم سمه خبره ده
چی دځينو مـهاجرو كـاربنه
جوړدی دماشـومانو دتعليم
سلسله يی په اوچتــه ســويه
روانه ده دتاون ، حـيــات اباد
اوداربـاب روډ پــه بـنـگـلـو
اومـحلونو كی اوسـيـږی دهيځ
غم اودرد څـخـه خـبـرنـه دی
اوخــــدای (ج) دی تـريـنـه نـه
خبروی كه دلتـه وی ښه اوكه
هتله شوه نوبيا هم ښه غم خوبه
داشرف په خيرغريب اومظلوم
خلك كـــوی چی دوچی دوډۍ
لپاره يی دمـزدوری درك هم نه
لگی په چوكـونو كی دوخـتـه
دسـهــاريـه يخـه يخنی كی
ودريږی ترڅـو دچا سره دپاړی
ته ولاړشی كـه كـارپـيـداشی
خوښه اوكه پيدانشی نو ددغی
ځايه نامراده راروان شی په زړه
يی څه څه تيريږی ...
اشـــــرفـاخــــــرهـم
دډيروهيلواوارمانونو سره ددی
دنيـــا نه رخـصـت شـو نه يی
دخپلی ښځی اونه يی دخپلو
بچـو لپـاره دخـوشـحـالی څـه
كاروكړای شو.
پدغــو ارمـانجنو خلكو كی
يوهم اشـرف خـان ؤ كـوم چی
مـاپـخـپلو لاسوپه قـبـر كی
دتوروخاورولاندی كړيدی اودده
ټول ارمـانونه می دده ســره په
لحد كی ښخ كړيدی ځكه داسی
نه چی دده دغـــه ارزوگـــانی
اوارمانونه دده ځلوروكوچنيانو
اوبوی بی اسری ښځی ته پاتی
شی خـوزه پدی كـاربريالی نه
شوم ځكه زه چی اوس هم دغی
كوځی ته راورسيږم نوگورم چی
يوه خـوركی چی تورڅادر يی
په سـردی يوبچی په غـيـږكې
اودری وريـسی منډې وهی په
نامعلومو اووركولارو روان دی

مـاته ښـه يادی چی داشـرف
دجنازی نه پـه راروانو خلكو
كی يوزه هم وم اوخلك څـــه
څوخودشمار ۱۲-۱۳كسان وو،
" ۵ " مخ

لنډۍ

ستا په غيرت پاندې مين يم
ځکه له تاسره تر څنګ جهاد ته ځمه

ستا د راکټو تر غږ قربان شم
چې د ملحد پر مورچل بلا کړي سزاورو

مجاهد بیا مورچل ته وخوت
خلقیان ژړیږي چې بڅوا بانلاشینه

غازي تانکونه دې ړنګ کړو
چې دخلقیانو په کور پر ږغ تندر وو

را لیږونکی طالب العلم محمد قاسم

تکل

شفيقي

جادوگره موسكا

نن په داسی لاره تلم چی هيڅ
می زړه نه غـوښـتل اوخـدای
(ج) ته می سـوالونه كـول چی
بيـا می په داسی لاره تگ ته
مـجـبـورنه كـړی - پښی می
راپسی لنډی وی ، زړه می نه
غـوښـتل خـومـجبوروم سـتـری
مجبوری په مخه كړی وم كه نه
نو په داسی لاره دی خـدای ج
دچامخه نه كوی،زړه می دمخه
لا خـولی ته راغلی ؤ خـوچی
دروغـتـون هغـه مـخـصـوص
ددواگـانو بوی می په سپږمو
راننوت نومی لا حال ابترشو ،
ماته دهغه ځيره رامخی مخی
ته كـيـده اوپه همدی سوچونو
كی ورك وم چی څنگه به وی؟
اوپه څه حالت كی به يی وينم
مابه چی فكركاوه هغـه به می
خوړين اوپه زگيروو سلگوكی
نظرته راغی فكرمی كـاوه چی
" ۵ " مخ

ورکې لارې ...

چی په دوی کی هم زیات تعداد دځای خلکو ؤ.ده سره پدی کوځه کې خپل وطنداران ډیر اوسیدل خوښایی هغوی دده دجنازی دلمونځ داداء کولو څخه خپل کارونه بهتراوښه ګڼلی وی ځکه چی ده سره نه په ژوند څه ؤ اونه یی ورسره څه کړی ؤ چی لا دمرګ نه وروسته به یی دکوم مرض دواشی.

خوخیر زه هیڅوک هم نه ګرموم ځکه چی داسی حالات رامنځ ته شویدی چی سړیتوب اوانسانیت یکی هیڅ ارزښت نه لری بس دپیسواومالدارو خبری دی اوپیسی خوداشرف سره نه وی چی ددنیا خلکو ته یی ښودلی وای اوکه ما څه منډه تړه وهله نو مجبوروم ځکه چی دوطنداری سره سره می د۱۶کلونو دوستی اواشنایی ورسره وه اواوس ترینه دځان خلاصیدل راته ډیره بی وفایی ښکاریده .

تقریباً داشرف دزړه ډیرداغونه ماته ښکاره ووځکه چی دمخامخ کیدوسره به یی دټولو رازونو نه خبرولم داشرف غریب مریضی اومرګ دهمدی بی وسی،یوه کړی وه نه یی دکوم ښه معالج معائنه وکتله اونه یی څه ښه داروخکل اشرف خوبه په ۳۰ کلداری ټوله ورځ دختهو ټاټکی اوچتول دسمتهو بوری،به یی وړی اوراوړې اولا ددی سره سره به یی دټهیکداراوګلکارستغی سپوری اوکله ناکله ورسره مسخری هم تیرولی خوده ددی یوی خبری ځواب هم نشو ورکولای ځکه چی غریبی اوناداری دبازنه ټپوس جوړوی که په زړه باندی به یی کومه خبره بده ولګیده اودځواب ورکولو لپاره به یی خوله بیرته کړه نوهغی ته به یی څلوربیرسری واړه بچی ودریدل لوږه تنده زړی پیوندی جامی اودقلم څخه لری ګوتی به یی وریه یاد شوی دځانه سره به وبوګنید نه چی په ځواب می خفه شی اورخصت راکړی نویه روڼ تندی اودخندا نه په ډکه خوله به یی ځواب ورکړ(هوکنه استاذه چی ټوکی ، ټکالی یکی نه وی هغه به لا څه ژوندوی) خوپه حقیقت کی دی دې خبرودچولرګیو په شان سوځولو خوپه خوله یی هیڅ هم نشو ویلای .

دبچواودښځی دسرپرستی ډیروغمونو ، فکرونو ، اووسوسوپه زړه باندی ټپی کړو اوورو ورویی دیوی پخی ناروغی،ښه غوره کړه ښځی ورته څو څوځلی ویلی ؤ چی مونږدی دلوږی مړه شو خوچی نن دمزدوری پیسی واخلی نوهمغلته پری ډاکترصاحب ته ورشه هره شپه دریاندی تبه راځی رنګ دی ورځ په ورځ زیړیږی خدای(ج) پاك مکړه که زیات شی نوزه به په مړه ګیله ډودۍ،څه وکړم اشرف داناروغی ټوکه ګڼله په خپل ځان یی سخته تیروله خوپه خپلو بچو یی سخته پیرزونه وه .

ناروغی،چی پری ښه زوروکړاونوریی دکارتوان په ځان کی نه لیده مازدیګر یی دخپلو لاسونو دګټی ۳۰ روپۍ په جیب کی کیښودی اومخامخ حکیم صاحب ته په څودمو کی ورغی لاس یی ورونږاندی کړحکیم صاحب یی لاس ونیوه خوفکرمند غوندی شو ورته یی وویل دناروغی،دپخومره موده وشوه ځوانه!په ځواب کی یی ورته وویل پنځه شپږمیاشتی به کیږی حکیم صاحب ! حکیم دنسخواودارو پوښتنه ځنی وکړه خو اشرف سمدستی ځواب ورکړ چی نه حکیم صاحب ډیره غریبی می ده دارومی ندی خوړلی حکیم ورته وویل ستاپه بدن کی مړه تبه ده زه به لږ دارو درکړم خوته ځان غټ ډاکترته ورسوه ستادارو به دمیاشتی لږترلږه دشپږوسووروپو وی اودیوه کاله پوری چی یی وخوری خدای (ج) پاك به دی جګ جوړکړی ښایسته ځوانی دی ده اوکه ناراستی دی وکړه نوځان به دخپله لاسه دقبر کندی ته ورګوزارکړی دحکیم ددی خبروسره یی وسوسی نوری هم زیاتی شوی رنګ به یی ورو وروتغیر کولوپسنی به یی دځان پسی راښکلی اودخپلې مزدوری پسی به تلو څوورځی مخکی می دغرمی په وخت کی ولیده ورته ومی ویل څنګه اشنا کارته نه یی تللی په وچو شونډو یی ځواب راکړ: تللی وم خوګلکاربیرته رارخصت کړم ویی چې داخوڅه هسپتال نه دی ته کارنشی کولای څه کورته ولاړشه ارام وکړه.

په زړه کې ډیرزیات خفه شوم چی اخرزما انجام به څه وی څه په خواروس ځان په تش لاس خپلو بچوته راورساوه بچی می هم نهردی ځمکه ځای نه راکوی بهرترنه راووتم دکوردښتن هم راسره غم دی پنځه سوه روپی کرایه یی راته جمع شویده که مړشم دابه می هم په غاړه پاتی شی اودبچو سرپرست خومی په غیر دالله (ج) نه بل څوك نشته پلاراومشروروروخومی ظالمانو ژوندی په ځمکه ښخ کړل اوزه یواځی پاتی شوم دډیر مجبوریت نه می دورنداری سره نکاح وکړه اوکه نه می کوله نوهغه به دخپلو دووبچو سره چیرته ګرځیده اوزما دمرګ نه وروسته به ورته اوس څلوربچی وربه غاړه شی اوددنیا ټولی سختی،به یی پخپل سرشی .

دده ددی خبرو سره زمادسترګو داوښکو ورخ راوشکیدخوزرمی دده دحوصلو دپورته کولو لپاره بند کړی : فکرمه کوه اشنا په ژوند کې داسختی راځی اوبیا په هجرت کی خو خامخا دکورکرایه دی په ماشوه اوسحر ځان تیارکړه که خیروی دکچه ګړی،شفاخانی ته به دی بوځم دارویه درکړی اوراځو به خدای شته ډیر خوشحاله شو اوډیری دوعاګانی یی راته وکړی .

سحرداشنغری،نه دکچه ګړی،په لورروان شوو شفاخانی ته ورسیدو اوس نوددروازی څوکیداردننه تلو اجازت نه راکوی کارت غواړی واسطه اوسفارش غواړی ماورته په ډیر ادب سره وویل چی غریب خلك یوڼوی مریض دی کارت نه لری اوبیا داشفاخانه خوده هم دمهاجرو لپاره خوځه په زاری عذربی پریښودو اوس نودننه زمونږخبره څوك اوری هریو پوزه او خوله تړلی ده که پوښتنه ځنی وکړم ځواب نه راکوی اوپه یو شغ تیرشی حیران دریاڼ پاتی یو چی داڅه وشواخرداخودهمدغو مهاجرولپاره جوړشوی دی اوبیامریض غریب خودمهاجرت سره سره دخدای(ج) مسکین دی خودا ماچاته ویلی وای اوچابه اوریدلی وای ؟ په ډیرو منډو ترړواودلاس لګولو په وچ زورمی دډاکتر صاحب څخه یو دوه بوتلی شربت واخیستو خوشحاله شوم نه معائنه وشوه اونه مریض چاوکوت بهراووتو په بوتلو می چی قیمت وکتو نوددواړو (۱۹) روپۍ جوړیدی سترګی می وربولی اوبیا می ورته په ځیر ځیروکتل څوغلط شوی نه وم اشرف پوښتنه وکړه ولی څه یی پری لیکلی دی زه وارخطااوتلولی غوندی شوم هوډیره ښه دواده اوخارجی دواده خدای (ج) به دی له خیره روغ رمټ کړی فکرمکوه اشرف راته وویل په خوله دی برکت شه زه خوبیخی ساه ساه کیږم ماسپښین می کورته راورساوه اوپه یوه زوړکټ کی بی خوده وغورځیدو ښځه اوبچی یی سراوپښو ته شو دپاسه پری وربری واتم ورکوټی بچی یی څوځو واره ښکل کړو په سینه یی کښینولو اودنازخبری یی ورسره شروع کړی اوخدای شته چی په دی خبرو کی څومره مینه محبت اوسکون ؤ.

اوبیا یوبل ماسپښین داسی هم راغی چی زه دده دجنازی څخه دده ترکوره راورسیدم خلك خواره شول هرچا خپل کټ یوړواودعایی وژته وکړه مایی دکوردروازه وټکوله اوورننوتم ترڅو خپلی دینی خورته څه واو ورکړم ځکه چی ډیر بی اسری پاتی شول کورته دورننوتو سره سم می خورکی، په داسی حال کی ولیده چی دراپاڅیدو توان یکی نه ؤ دکورپه انګړ کې یواځی ناسته وه تورټیکری یی په سر دڅړا سری سترګی اوشلیدلی ګریوان یوورکوټی په غیږ اودری نوریی ترخواناست دی دغم ویرکوی ، دغیږی دماشوم څخه پرته دانوریه خپله ژړاکی پلاراوډوډۍ،یاده وی زماهم زړه ډك ډك کیده په کورکی می ګرد چاپیره وکتل فقط یوشلیدلی کټ یوه بړستن اویو څوماتی کټی،می په نظر راغلی ، ماورته ددلاسی خبری شروع کړی خوهغی زماخبره زما په ستونی کی وچه کړه بس دی وروره بس پدی دنیا کی زمانورهیڅوك نه شته تاسره دی خدای پاك ډیرښه وکړی نورموږ دچاداوږوپنډونه کیږونه دچاداوږوپیټی چی وو هغه اوس پدی دنیا کی نشته زمونږګزاره اوس پدی کورکی ګرانه ده خپل بچی به راسره وی په هرځای کی چی وم خدای

پاك به یوه خپړډوډۍ رارسوی اوکه نه نومرګ خوچیرته تللی نه دی زه بی جوابه شوم مخ می ترنه وګرځاوه چی مخ می راواړوه نولیری می ولیدل چی خورکی بړستن په سریو بچی په غیږ اودری نورورپسی منډی وهی اوددغه ځایه داسی په منډه روانه ده لکه چی دځان اودخپلو بچو لپاره ورکې لاری لټوی .

جنګ به له درې ورځو څخه تر یوې میاشتې پورې دوام ولري ...

ملت ته خبرداری ورکړی چی دکلونود دوامداره دفاعی جنګ لپاره تیاراوسی ځکه چی په دی دوران کی به له ډیرځانی اومالی تاوانونو سره مخامخ کیدل وی ، دخلیج یوی ورځپانی دبش له خوانه په یوه خبر کی ویلی دی چی عراق زمونږلپاره دوهم ویتنام نشی ګرځیدلی اوجنګ به ډیرزرخلاص شی په خبر کی ویلی شویدی که چیری په جنګ کی زهرجنی وسلی استعمال کړای شی نوجنګ به له څو دقیقو څخه زیات نه وی په اوسنیو وختونوکی دبرتانیی څخه خپریدونکی یوی ورځپانی (انتلی جنس ریویو) ویلی دی چی اتحادی پوځونو ته به عراق ته په ماتی ورکولو کی ۱۷ ورځی په کاروی

جادوګره موسکا ...

انسان څومره عاجزاوکمزوری دی څومره بی وسه اوناتوانه دی، څومره مجبوردی،پرون چی ما دچادتوری اومیرانی اوازی اوریدی نن یی دمرګ اوژوند ترمنځ پښنی اولاسونه وهل، اوبیا به می پریدن یوه سره څپه راغله ،غونی به می زیږه شول اودماضی په رنګینو خاطروکی ورك شوم ، دانتظارشیبی ختمی اواورده دهلیزونه لنډ شول ، زه په همغه کوټه ورننوتم چی اشنامی یکی بسترؤ اوپه یوه شیبه کی دهغه سرته ولاړوم ماهغه تراوسه په دی رنګ نه ؤلیدلی ، خوهغسی هم نه ؤ لکه ما چی داټوله لاره په تصورکی انځورکړی ؤ ، ماته یی دغه څیره ډیره نوی وه بلکل نوی ، داسی چی دلومړی ځل لپاره می لیده ، خوعجیبه وه چی ډیر یوغټ اثریی له څیری نه نه ؤلری شوی ، هغه چی په لومړی نظریی په زړونو اغیزاوجادوکاوه ...

ماته دهغه په لیدو داسی ښکاره شوه لکه چی یو مستند فلم ګورم دیوه ولس دقهرمانیو اواتلولیو اوږد اوله حادثو ډك فلم ، لکه یو حقیقی تاریخی داستان چی لولم ، دهغه په تندی اوڅیره کی هره کرښه ماته دتیرددولس کلن انقلابی ژوندانه لوړی ژوری پیچومی اوګړنګونه وښکاریدل ، چی ددی ملت دعظمتونو اوویاړونو تاریخ جوړوی اوماته دهغه په لیدلو دخپل تیر ژوندانه هغه له برمه ډکی شیبی هم ټولی سترګوته ودریدی چی زه همدااوس پری ویاړم هم اوارمان یی هم کوم ماته یوه شیبه ځان ډیرملامت اوګناهکارښکاره شو خوداشنا خواږه اوله مینی ډك تبسم بیرته راپه خودکړم .

زه به ملامت وم که نه ، خدای (ج) پوهیږی خوما چی دخپل خواږه ملګری اودمورچلونو دهمیشنی اشنا په څیره کی دافتخاراواتلولیو کومی نښی نښانی لیدلی دهغی نه بی برخی اومحروم ضروروم ، ځان می دهغه په وړاندی هیڅ ولید ، هیڅ به یم که نه خودهغه ستروتوب اوعظمت می ځان راته هیڅ کړی ؤ...

دهغه سینه اوبدن په سپین ململ پوښلی ؤ په مخ کی یی پخوانی،سرخی څه چی دوینی څك نه ؤ ، تك سپین اوښتی ؤ ، دهغه غوښی څه چی هډوکی هم اوبه شوی وو اوس خوهسی دیو څوچو هډوکو تش کپس پاتی ؤ،خویوازینی شی چی مرمیواوباروتو هم نه‌ؤتری وړی ، دباروتو اوفولادو زورهم نه ؤ پری رسیدلی چی تری ویی تښتوی هغه همغه دایمی موسکاوه ، هغه موسکا چی دتوپونو په غړمبادبونو په درزا اودراکټونو په شنا کی ما دخپل اشناپه خوله لیدلی وه نن هم وه سره له دی چی پرسینه اوبدن یی دری مرمی،سری شوی وی - هډوکی اوغوښی یی اوبه اوبه شوی وو خوپه خوله یی لا همغسی موسکا وه، ، همغسی له صمیمیت شهامت اومحبت نه ډکه موسکا چی په زړونو به یی اثر اوجادوکاوه اوزړونه به یی تسخیرول .

دلته ؤ چی ماته دانسان ځواك ، پرتم اوقوت هم ښه څرګند شواوس مادیوانسان په څیره کی هغه قوتونه لیدل چی دمرګونو وسیلو نشوای تری لری کولای اوچی مرګ هم نه شوای تری شوکولی ...

درشید دوستم «گلم جم» په باب څوخبرې

عبدالوکیل

، څکه چې روسان اوددوی مزدوررژیم هرید ، غیر انساني ، غیر اخلاقي اوذلیلو کړو وړوته غاړه ږدي خودافغانستان دآزادۍ اومسلمانانو دوینو دتویولو دمخ نیوي په خاطر دسیاسي قدرت نخخه دډه کولو ته تیارندي اودمزدوررژیم دحتمي نسکوریدو مودې داوږدوالي په خاطر دهیڅ ډول جنایت اوبربریت نخخه دریغ نه کوي.

په افغانستان کې دمغولو ، روسانو اوروسي مزدورانو دهغې جملې نخخه دگلم جم وحشت اوځناورتوب یوبل ته سره ورته اوډیر نږدې دي . ددغو ځناورصفتانو دوحشت اوجنایت دیوې یوې نمونې ذکربه زموږسره دکابل مزدوررژیم اوگلم جم په پیژندگلوۍ کې لازمه مرسته وکړي.

دچنگیزخان په قوماندانیت دمغولو خراستعماري سیلاب دمنځنۍ آسیا ، روسیې اودختیځې اروپا یوشمیرهیوادونو باندې په ډیر کم وخت کې راتیر شو اودافغانستان شمالي پولو ته راورسید . دمغولو هره شیبه اوهرقدم په افغانستان کې دروسانو اوپه کابل کې ددوی دلاسپوڅي رژیم په شان بوگنوونکي اودبشري نړۍلپاره دتل پاتې جنایتونو اووحشي‐ گریو بیلگې دي.

کله چې چنگیز خان افغاني خاورې ته داخل شو دهسې مقاومت سره مخامخ شو چې پخوا ترهغه یې فکرهم نه کاوه.

دهغو زرگونو باتوریو اوننگونو له جملې نخخه چې افغانانو دچنگیزي قواو په مقابل کې کړي دي ، دغورولایت اړونده پښتنو مسلمانانو دیوې جنگي قلعې مقاومت اوسرښندنې تَه به اشاره وکړو .

دچنگیزخان لښکرې دغورولایت په ساحې پورې مربوطې هغې قلعې ته ورسیدلې کومه چې دیوې لوړې غونډۍ په سرآباد ه شوې وه اودیوه حصارپه څیر وه چنگیزدداسې قلعو تسخیراوویجاړولو ته دڅو ورځو نخخه زیاته حوصله نه درلوده خوددغې کوچنۍ جنگي قلعی سره په سخت تاوده جنگ کې پرې (۹) میاشتې تیرې شوې . په جنگي قلعه کې مسلمانانو ته دخوراك ټول شیان خلاص شول خوداسلام اووطن دښمنانو ته دتسلیم کیدو نخخه یې دسر اومال قرباني ډیره ښه وگڼله اوله ناچارۍیې دهغو شهیدانو دغوښو په خوړلوشروع وکړه کوم چې دمغولي استکبارپه غشو اوچاړو یې حق ته ځانونه سپارلي ؤ . خوداسلام اووطن دښمنانو ته تسلیم نه شول اودچنگیزخان متابعت یې تربل هرشي بدوباله . نوکله چې ددې قلعې دنیولو په اړوند دچنگیزنورټول پلانونه ناکام شول ، امرېې وکړ چې دخاورو، تیږو اوبوټو نخخه دې یوه غونډۍ جوړه شي چې جگوالی یې دمسلمانانو دبالاحصارته ورته جنگي قلعې نخخه لوړوي اودکم وخت په تیریدو سره همداسې وشول . نووروسته له دې یې قلعه بند افغانان له پخوا نخخه دزیاتوستونځو سره مخامخ کړل اوددې سره یوځای ډیر مسلمانان دغذایي رژیم په اړوند مریضان اوپه حق ورسیدل ، بالاخره دچنگیز لښکرو دقلعې دیوالونه سوري اولاس په گریوان اوتن په تن جنگ ونښت خومسلمانانو ماته ونکړه اما دډیرې اوږدې جگړې په جریان کې د مسلمانانودشهیدانوشمیر زیات شو .

اودهغو مجاهدینو تعداد کومو چې په جهادکې مستقیمه برخه درلوده کم شو . بالاخره ددیرشو مجاهدینو په حدودکې ژوندي پاتې شول نو یې دافیصله وکړه چې خپل اولادونه اوښځې اودکورنیو نورهغه غړي چې دجهاد قدرت اوتوان نلري پخپله له منځه یوسي ترڅو ددوی ناموس دمغولي وحشیانو په لاس کې پرې نه وزي هغوی همداسې وکړل اوبیا ټولو سپین کفن واغوستل اودالله اکبرپه نارو سره ټول مجاهدین دخپلو وسلوسره له قلعې نخخه په چنگیزیانو پسې راووتل نوبې پرچنگیزي لښکرو هسې محشر جوړکړ چې په بشري تاریخ کې یې کمې نمونې ثرگندې شویدي . خوثرنگه چې دمغولوپه لښکرغرونه اوسمې دکې وې نوځکه ټولو نوموړومجاهدینو دژوند تروروستیو سلگیو پورې داسلام اووطن دښمنانو کې چاړې اوتبرونه وازمویل چې په نتیجه کې له یوه سره شهیدان شول .

په دې جگړه کې دچنگیزلمسی تپي اوبیا وروسته هلاك شونو څکه چنگیززیات په قهراوغوصه شو اوخولې (کلا) یې له سرنخخه لرې اووشړله اوترآخره یې نورنوپه لوڅ سرجنگیدل شروع کړل خپلو پوځونو ته یې امروکړ چې

> جنگي قلعه کی مسلمانانو ته دخوراک ټول شیان خلاص شول خو داسلام اووطن دښمنانو ته دتسلیم کیدو څخه یی دسراو مال قرباني ډیره ښه وگڼله اوله ناچارۍیی دشهیدانو دغوښو په خوړلو شروع وکړه

دنوموړي منطقې ټول حیوانات اونباتات له منځه یوسي ، قلعه اوپکې ټول کورونه یې له بیخه وران اوویجاړکړل اوپه نوم شین بوټی یې دنوموړي قلعې په شا اوخواکې پرې نه ښود ، څکه چې چنگیز امرکړی ؤ ، پردې ځای باندې دژوند کولو ټول امکانات باید نابود اوله منځه ولاړشي ، دغووحشیانو همداسې وکړل اوپه نوموړي منطقه کې یې دژوند اوتمدن ټولې نښې اونښانې ورکې کړې اماروسانو داوحشت دشلمې پیړۍپه آخرو کې دافغانستان په گوټ گوټ کې تکراراوعملي کړل.

د ۱۳۶۰ هـ ش کـــــال دلوی اخترپه بختوروشپو ورځو کې دتگاب پرولسـوالی باندی چې دکابل ولایت شمال شرق ته پرته ده روسی وحـــشی پوځـــونه ورمـــــارش شـــول کله چی مجاهدینو دروسانو بی شمیره عـــسکرکـــوم چی دټانکونو اوجنگی الوتکو په واسطه تقویه شوی ؤ ولیدل چی ددوی کلیـــو اوکـــورونو طرف ته په حـرکت کی دی نوسم دلاسـه له کورونو څخه راووتل اودروسانو په ټانکونو باندی یی دهغــو لاسی بمونو پواسطـه برید وکړکوم چې مجاهدینو پخپله دپطرولو ، صابون او ښیښه یی بوتلونو څـــخه جـوړکـړی ؤ دخـودقـیـقـوتودی اوشـدیدی جگړی څـــخه وروسـتـــه هری خـواته دروسی ټانکونو څـخه تورلوگی پورته شـول اوســـره روســان دخـــپلو ټانکونو په اورونو کی تورواوښـــتل خوځرنگه چې دروسی ټانکونو شمیر بی حده زیات ؤ اوهوایی بمباریو دمـجـاهـدینودفـاعی سنگرونه په پرلپـــسی ډول تراورلاندی نیـــولی ؤ اوپلی عـــسکر یی دملخـانو دسیل پشان زیات ؤ نو څکه روسانو ته دډیرو ځانی اومالی تلفاتو څخه وروسته دمجاهدینو دغه کـوچنی گـروپ چی اسـلامی اووطنی جذبی یی دروسانو بی شمیره عسکری قواوې په لړزه راوستلی ټول شــهـیـدان شــول اوروسی ټانکونه اوځناورصفته عــسکردهغـه کلی په کـوڅـو اوکورونو ورگډشول په هغه کې چې یوازې ښـځې ، اطفــال اوبونیم بوډا اوسپین ږیری چی دکورونو څخه یی دوتلو توان نه درلود ، پاتی شوی ؤ.

روسانو دخپل پلان اومعمول سره سم دکورونو په چوراوبی ستریوشروع وکړه ، اما کله چی روسانو هغه روسی عسکر کوم چی دکلی څیرمه کوردننه یی په وینو کې لغتی وهلی اودیوه بوډا په لاس کې یی هغـــه کوچنی جیبی چاقو په وینو ســورلړلی ولیـدنو سم دلاسـه ټولو عـسکروته امرورکړل شو چی دکلی ښځی ، سپین ږیری اوکوچنیان دیوه سره په روسی کـلاکوفـونو سوری سوری اوغلبـیـل کـړی ، نو لږوخت وروســـتـــه ددی کلی په هرکوراوکوڅه کې دماشومانو چیغې اودمیندو کوکې ډیری زرورکې شــوې اوټول یی په شهادت ورسول .

موږ په خپلو وینو دکشمیر...

کورکې کوم مجاهد دی نوپه کوروړننوځې اودکورټول خلك ددغه داړونکو اووحشیانو دشکنجو اوظلمونو هدف گرځې اوهیڅوك ددغو ظالمانو له ظلم اوناروانه په امن نه پاتې کیږي.

پوښتنه :- آیا په اوسنیو سختو حالاتوکې په کشمیر کې دننه دمسلمانانو مورال لوړدی ؟

ځواب:- هندوستان چې څومره ظلم وکړي مسلمانان اوس دې ته چمتونه دي چې هغوی ته تسلیم شي بلکې ددغو ظلمونو له امله دمسلمانانو په زړونو کې دجهاد جذبه نوره هم لوړه شوې اودپخوانخخه ښه دهندي پوځونو مقابلې ته تیاراوچمتو دي . په اوس وخت کې دنیول شوي کشمیر هرسړی دهنددمقابلې لپاره ددیوال په

> دهندوستان له خوا زموږپه میندو اوخویندو هغه وحشیانه اودردووکو ظلمونوموږدې خبرې ته مجبورکړو چې پاڅیږواودهغه ظالم مقابله وکړو چې په بې گناه مسلمانانو باندې ظلمونه کوي.

شان ولاړدی .

پوښتنه :- دنیول شوي کشمیر په ځوانانوکې دجهاد جذبه څرنگه پیداشوه اساسي علت یې څه ؤ؟

ځواب:- هلته جماعت اسلامي ، جمعیت طلبه اوداسې نوراسلام خوښوونکي گوندونه کارکوي ، دغو گوندونو ځوانان دجهاد کولو لپاره وروزل په ماکې چې هم دجهادکومه جذبه پیداشویده داهم ددغو گوندونودکاراوهڅو برکت دی . ددوی لیکنو اوددوی بیانیو دکشمیر ټول خلك دجهاد لپاره چمتو کړي اوپه دې لارکې ځوانان هرډول سرښندنې ته تیاردي.

زموږ ځواك دجهاد ...

اودجـــهـــاد ټول قـــوتونه زموږقوتونه دی اوموږنه غواړو چې ددوی څـــخـــه بیل قـــوت رامنځ ته کړو . دافـغـانسـتـان مسلمان ملت هم دجهاد پوری مـربوط قـوت دی اوددوی قـوت هم دشــــوری قـــوت دی نوزمـوږغوښتنه داده چی ټول دشوری ملاتړوکړی ترڅوشوری په خپلو اسـلامی مـقـصـدونو بریالی شی اوپه افغانستان کی یو ، سـوچه اسـلامی حکومت رامنځ ته شی .

پوښـــتـنه :-څـــرنگه چی دقـومانـدانانو دشوری چاری په بریالیـتـوب سره پر مخ روانی دی اودغه شوری دافـغـانسـتان په سطحـــــه ده نـودشـــــورا نظاردمـوجودیت اوفـعـالیت په برخه کی څه نظر لری ؟

ځواب :- څرنگه چی داشوری دافغـانستان سرتاسری شوری حــیـثـیت لری ، نو په همــدی اســـاس دشــــوری نـظارټول قوماندانان ددی شوری غړی دی زمـــا په نظر دشـــوری نظارموجـودیت ښه دی ، څکه هلتـه یوسلسله قـوانین اونظم مـوجوددی چی داکـارهم ددی سرتاسـری شـوری په گټه دی اودشوری نظارمشر چی دشوری نظارپه باره کی ویلی دی چی دقوماندانانو دسرتاسری شوری دجوړیدو وروسـتـه نورشـوری نظارته ضرورت نشته نودهغه مطلب به هم داؤ چی شـــوری نظاربه دقوماندانانو دسرتاسری شوری مـخالفت نه بلکه دهغی دمحکموالی دپاره به کـارکوی څکه چی شـــوری نظارددغی شوری عضویت لری .

دخلیج دلانجې په رابطه دالحاج حقاني پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم
نحمده ونصلي علي رسوله الکریم اما بعد :
دخلیج دکړکیچ په اړه په عامه توګه دټولي اسلامي نړۍ هیوادونو ته زما پیغام دادي چې:
په اسلام کې په هره برخه کې څرګنداحکام شته.نن چې داسلامي نړۍ یوه برخه (په خلیج کې پراته هیوادونه) دیوستر کړکیچ سره مخامخ دي داسلامي نړۍ دهیوادونو مکلفیت دادي چې دوي دکویټ دمسلمانانو له حقوقونه په کلکه دفاع وکړي اوصدام حسین چې دکویټ په خاوره کوم تجاوزکړي دي اوکوم شراوفتنه یې رامنځ ته کړي ده په ټولو مسلمانانو لازمه ده چې ددغه فتنې دله منځه وړلو لپاره سره یوشي . په هره وسیله چې کیداي شي صدام حسین دي ته مجبورکړاي شي چې دکویټ خاوره خوشې کړي.
هغه قوتونه چې داسلامي نړۍ نه دي اودبهرنۍ نړۍ نه ددوي مرستې ته راغلي دي په دي برخه کې جایزه لاره داده چې له دښمن سره دمقابلې اوجګړې په وخت کې باید ټول قیادت دمسلمانانو په لاس کې وي ، مطلب داچې دهغوي قوت باید دمسلمانانو ترقیادت اوحکم لاندې استعمال شي ، خومسلمانان که په دغه طریقه دهغوي له قوت څخه کاراخلي په څنګ کې باید دهغوشرته هم متوجه اوسي اودهغوي دفتنو مخه دي په کلکه ونیسي داسې نشي چې په دغه طریقه هغوي خپل شوم اوناولي غرضونه ترسره کړي ځکه چې کفر په هروخت داسلام دښمن دي اوکه دمسلمانانو سره کله کله دبشري همدردۍ ناري سوري هم وهي ، ترشا یې خپلو ناولو مقصدونو ته دځان رسولو هیله هم لري .
په عامه توګه داسلامي امت له عالمانو اوعامو مسلمانانو څخه زما هیله داده چې په دي اوسني وخت کې چې دخلیج په سیمه کوم مصیبت په مسلمانانو راغلي دي عالمانو ته پکاردي چې دسهارپه لمانځه کې قنوت نازله ووایي ، مسلمانان روژه ونیسي ، نفلي اوتهجد لمونځونه وکړي اودخداي (ج) په دربارکې دعا وکړي چې خداي (ج) دغه شراوفتنه دمسلمانانو له سره دفعه کړي .
همدغه دنبي کریم صلي الله علیه وسلم ، طریقه هم ده چې مسلمانان باید دغم اومصیبت په حالت کې خداي (ج) ته دوعا اوزاري وکړي اوټول عالم اسلام خیروغواړي .
دافغانستان مجاهد ملت چې له یوي خوا په دي اوسني حالت کې دنړۍ دیوسترکفري اوالحادي طاقت (روس) اودهغوي مزدورانو سره په مخامخ جګړه بوخت اوله بلې خوا ترپنځو ملیونو زیات مؤمن وګړي په نورو هیوادوکې مهاجردي ، زیات مادي امکانات اووسایل هم په واك کې نلري مستقیماً نشي کولي چې دخپلو مسلمانانو ورونو سره ددي شر په دفع کولو کې برخه واخلي ، خوهغه مؤمن افغانان چې دخلیج دسیمې په هیوادونو خصوصاً په سعودي عربستان کې دي له هغوي نه زماتقاضا داده چې دخپلو نورو مسلمانانو ورونو سره ملاترشي اودسعودي عربستان حکومت ته هم پکاردي چې خپلو دغو ورونو ته هم وسایل اوامکانات په واك کې ورکړي چې له دوي سره یو ځاي ددغه مصیبت په له منځه وړلو کې برخه واخلي .
په پاي کې خپلې خبري په دي دعاپاي ته رسوم چې لوي خداي (ج) دي دټولې نړۍ مسلمانانو ته دوحدت توفیق ورکړي اوداسلامي نړۍ له سره دمسلمانانو په خیر دغه مصیبت لري کړي.والسلام
مولوي جلال الدین حقاني

ددښمن دوه ټانکونه اویوموټر ویجاړشول

له کابل څخه په رارسیدلي خبرکې ویل شوي دي چې دجګدلك دسیمې میړنیو مجاهدینو په ۱۳۶۹/۱۰/۱۵نیټه دکابل ختیځ کې ددښمن پرپوځي پوستوعملیات وکړل چې دهغو په نتیجه کې ددښمن دوه ټانکونه اویوموټرویجاړشوي دي .
همدارنګه په دي وروستیو وختونو کې مجاهدینو دسروبي په ولسوالي کې ددښمن پرپوځي تأسیساتو اوپوستو عملیات کړي چې دهغوله امله دښمن ته دسراومال درانه تلفات وراوښتي دي

خلیج ګام په ګام دیوې لویې فاجعې په لور

دخلیج لانجه ګام په ګام دیوې فاجعې په لورپرمخ ځي اوهغه څه چې اوس دجنګ دمخنیوی له پاره یوامکان ښکاري هغه له کویټ څخه دعراقي عسکرودویستلو په باب دملګروملتودامنیت شوراله خوا دالتماتوم دنیټې اوږدیدل دی .
امنیت شوراله کویټ څخه دعراقي عسکرو دوتلو لپاره وروستۍ نیټه د۱۹۹۱م کال دجنوری پنځه لسمه یادجدی دمیاشتی پنځه ویشتمه نیټه ټاکلې وه .
دخلیج لانجه هغه وخت لا ډیره خطرناکه شوه چې په ژنیوکی دامریکی اوعراق دباندنیو چاروو وزیرانو جیمزبیکر اوطارق عزیزله شپږو ساعتو خبروروروسته کومه نتیجه ترلاسه نه کړه.
همدارنګه پدی برخه کې بله مهمه اوویره دتشویش خبره داده چې دامریکې دمتحده ایالاتو کانګریس له دریو ورځو جدی خبرو اوبحث وروسته دامریکی جمهوررئیس جورج بوش ته د۱۸۳ رایو په مقابل کی ۲۵۰رایو په اکثریت صلاحیت ورکړ چې دضرورت په صورت کې په خلیج کې به له قوې څخه کاروواخلي نړیوال خبری سرچینې وایې چې امریکا اومتحده قوتونه یې اوس ۴۸۰ زره سمبالی قواوی دعراق په مقابل کې لری اوعراق هم خپل دیو ملیونی پوځ څخه نیم یې په کویټ کې ددغو قواوو پر ضد ځای پرځای کړیدی .
دخبری منابعو له قوله دخلیج په ارتباط وروستی انکشاف عراق ته دملګروملتو سرمنشی هاویرپریزدیکویارسفر دی چې له صدام سره یې کتلی دی مخکی هم ځینو منابعو ویلی ووچی سنایی امریکا به دالتماتوم دنیټې داور یدو سره مخالفت ونکړی .

امریکا ادغام سه جمهوریت بالتیك رابروسیه برسمیت نمي شناسد

عساکر روسی درحالیکه برتانکها سواربودند وسلاح خودرا فیرمیکردند کنترول تسهیلات دفاعی ، مطابع ومخابرات لیتوانیا رابدست گرفتند .
طبق یك خبر رادیو صدای امریکا دراثر شدت عمل عساکر روسی حد اقل هفت تن مجروح شده اند ملیت خواهان لیتوانیا دراطراف یگانه برج تلویزیون جمهوری لیتوانیا دست بدست هم داده حلقه انسانی رابخاطر دورنگهداشتن عساکر روسی ازعمارت تشکیل دادند.
رئیس جمهورلیتوانیا گفته است روسیه به یك دولت دیگرحمله می کند .
قابل یاداوریست که قبلا تعدادی ازعساکر پېراشوتی روسیه بخاطر سوق اجباری افراد به خدمت عسکری به سه جمهوری بالتیك روسیه یعنی لیتوانیا ، استونیا ، ولاتویا فرستاده شده اند.
ایالات متحده درزابطه گفته است که استفاده ازقوای نظامی درلیتوانیا به نفع انکشورنبوده ومشی ایالات متحده درمقابل دولت های بالتیك جدا بحال خود باقیست .
رئیس جمهوربوش به گرباچف گفته است واشنگتن ادغام لیتوانیا ، لا تویا واستونیا رابه روسیه درسال ۱۹٤۰ م برسمیت نمی شناسد.
همچنان رادیوی مذکوردرخبر خویش می افزاید که پیمان ناتو وجامعه اروپا ازکرملین خواسته اند ازتخویف مردم درلیتوانیا اجتناب نموده به تعهدات خود به امنیت اروپاارج بگذارد.
کشورهای بریتانیا ، المان ، جاپان وپولیند نیز خواسته اند که کرملین بالیتوانیا ازطریق صلح امیز مذاکره نماید.

*****

درژیم الوتکو دپروان دوالي په کورېم وغورځاوه

دپروان ولایت له مرکز چاریکارنه رپوټ ورکړشویدي چې دجدي په ۱۹ نیټه درژیم جټ الوتکو درژیم دقواوڅه ګنه ګوڼې بمونه واچول ، چې لدي بمونوڅخه یوبم دوالي په استوګنځي ولګید اودکورلس تنه ساتونکي له دووتنو دکورنیو غړوسره په هلاکت ورسیدل.
رپوټ زیاتوي : دالوتکو یوبل بم دنعمان دلیسې په پورتنې برخه کې دپوستې په څنګ کې ولګید چې پکې دملیشه وو دوه تنه وځپل شول .

۷۰ جنګي بیړۍ او۱۰۰۰جنګي الوتکې په عراق باندې دحملې لپاره تیارې دي

دامریکا ددفاع وزیر دك چیني دجمعې په ورځ په واشنګتن کې وویل چې زما په فکرپه دخلیج جنګ مختصر وي هغه دامریکا تلویزیون ته په مرکه کې دځاني اومالي تاوانونو له ویلو څخه ډډه وکړه اوویې ویل چې زه نه پوهیږم چې ایا داجنګ به په میاشتو ، میاشتو دوام ولري هغه وویل چې په خلیج کې دامریکا دري لکه اواویا زره پوځیان (۴۰) بحري جنګي بېړۍ او(۱۰۰۰)جنګي الوتکې موجودې دي اوهغه په عراق باندې دحملې لپاره هروخت تیاردي دامریکا دیوه پوځي مشر(لیس اپیین) په فکر په جنګ کې به دامریکا د۵۰۰ تنوڅخه تر۱۰۰۰ تنو پوري پوځیان ووژل شي خودك چیني په دي باره کې دویلو څخه ډډه وکړه اوویې ویل چې دابه وخت ووایي چې په خلیج کې څه کیږي .هلته دلیبیاجمهوررئیس کرنیل قزافي دمتحده ایالاتو دسرمنشي اودامنیت دشوری مشرته پخپل یوپیغام کې داسرائیلو له پلوه په عراق ، اردن ، اوشام باندې دحملې کولو دخطرښودنه کړې ده اوویلي یې دي چې ددي ښودل خپله ذمه داري بولم دجاپان دبهرنیو چاروو وزیرپه خلیج کې دجنګ دمنع کیدو دکوښښونوپه سلسله کې په توکیو کې دعربي هیوادونو له سفیرانو سره لیدنی کتنی کړیدی په دی غونډه کې دعراق نه پرته د۱۷عربي هیوادونو استاذو ګډون وکړ.
(ناکایاما) دکویټ دازادولو لپاره دمتحده ایالاتو دټاکلې پریکړې څخه دمخه پریزدیکو-یاردامن دراوستو دکوښښونو ستاینه کړیده ، تاکایاما دیکشنبې په ورځ واشنګتن ته دامریکا دبهرنیو چارو وزیر جیمزبیکرسره دلیدو لپاره تلونکی دی هلته په اسرائیلو کی ټول جاپاني استوګني خپل هیوادته ستانه شوي دي ، په فلپائن کی کمونستو باغیانو اخطارورکړی که چیري په خلیج کی جنګ پیل شو نوموږبه په فلپائن کی دامریکا په پوځي اډو حمله وکړو خوبیا هم دپوځ مشرو ویل چې زه نه پوهیږم چې دباغیانو سره به دومره ځانګړی قوت وی چې هغوی حمله وکړی داتریش جمهوررئیس اودملګروملتونو پخواني لوی سکرتر(کورټ والدهیم) چې دمصر په دوره دی په قاهره کې ویلی دی چې دخلیج حالات ډیرزیات خراب دی اودپریزدیکویارهلی ځلی دمشکل سره مخامخ دی . په بغداد کی دمسلمانو پوهانو اوعالمانو په دری ورځنۍ غونډه کې امریکا ته اختیارورکړای شوی دی که امریکا اونوروانحادی هیوادونو یې په عراق باندی پوځي یرغل وکړ نودامریکا ګټې به نښې وګرځولای شی داغونډه پاپولراسلامی کنفرانس رابللی وه دغونډې څخه وروسته په یوه جاری کړای شوی بیان کې ویل شوی دی چې ټول اسلامی هیوادونه دی دعراق ملګرتیا وکړی اوپه ټوله نړۍ کې دامریکا اودده دملګروګټې خپلي نښې وګرځوی په بیان کی ویل شوی دی چې وروسته به څه وخت په بغداد کی داسلامی هیوادونو داستازو غونډه جوړه کړای شی چې په هغې کې به پریکړه وشی چې په عراق باندی دتیری په وخت کې کومه لاره خپله کړای شی

دانتخاباتو ناکامي اوپه نوې طرحه ...

اوځینې په دې اوسنۍ طرحې باندې اعتراضونه لری خوداسې وایی چې دمجاهدینو داتحاد اوتفاهم دپرځای پاتې کیدلو لپاره اوس دخپلو غوښتنو نه سترګی پټوی ، چې داهم پخپل وارسره اساسی ستونځه ده ځکه په داسی حالت کې د لازم تحریك اواخلاص توقع نه شی کیدلای .
ترټولو جالبه خبرداده چې دانتخاباتو په اړه ځینوموظفو کسانو چې باید هیواد ته دننه تللی وای دخپلومصارفو اوسفریو داخیستلو نه وروسته حضرته پر سفر ترجیح ورکړې اوارام اسوده په پینبورکې پخپلو کورونو کی ناست دی .
اوس چې داطرحه هم له ناکامۍ سره مخامخ ښکاری دمجاهدینو مشران اودجهاد خارجی دوستان په بلی ممکنی طرحی باندی بحثونه پیل کړی ،ویل کیږی چې داځل هم د۱۹۸۸م کال دمشورتی شوراپه شان دیوې بلې شورا په جوړولو باندې خبری کیږی چې کافی وسعت به لری اوپه ایران کې میشته شیعه تنظیمونه به هم پوره برخه پکی اخلی .
سوال دلته پاتی کیږی چې داتجربی به ترکله ترسره کیږی ، اوداملت چې دوولس کاله یې بې ساری قربانی ورکړې ترڅه وخته ضعیفو تصمیمونواوبې اخلاصه تصمیم نیوونکو ته سترګی په لاره وی ؟!!

په خليج کې څه پيښيږي ؟...

لومړي امريکايانو ويل چې دوې پلې مذاکراتو کې دخبرولپاره څه تلرې بواځې دعراق وزير ته هغه ليك ورکوي چې دبوش له خوا صدام حسين ته ليکل شوي دي – مګرووروسته معلومه شوه چې نومړې خبره هم دامريکا درواني جګړي يوه برخه وه . په خبرواتروکې دامريکا خارجه وزير دطارق عزيزله ډيرې کلکې اوانعطاف ناپذيرې موضع سره مخامخ شو،ان تردې چې دبوش دمکتوب له تسليمولو يې هم ډډه وکړه اوهغه يې پدې عنوان مستردکړچې ديپلوماتيکي اداب پکې ندي مراعات شوي اودګوښ اوبازاريه ژبه ليکل شوي دي داوضع دامريکايانو لپاره غيرمنتظره وه دخبرواترو ترپيل دمخه امريکايانو يوه بله خبره هم کوله ، هغه داچې دسويس ترمذاکراتو وروسته به نوردخبرودروازې بنديږي .

له دې يې دوه هدفه درلودل لومړي داچې دخپل سياست اوتصميم قاطعيت وښيي اودوهم داچې عراق دخپلي وروستي ارادي څرګندلو ته اړباسي ، مګرترخبروووروسته يش وويل چې اوس هم دسولي لپاره زياراېستل کيداي شي اودملګرومللتوسرمنشي پريزديکويارعلاقه لري چې پدې برخه کې فعاليت وکړي .

اوس امريکايان وارخطا معلوميږي البته ددې خبرې معنې داندده چې هغوي دجګړې داوردېلولو له پليت نيت څخه اوښتي دي .

هغوۍاوس هم په هغه کرغيړنه نقشه ولاړدي چې غواړي په خليج کې دجګړې دلارې داسلامي امت ځواکونه تباه کړي ، دتيلو په زيرمو خيټه واچوي اوپه ټوله غربي نړۍ دامريکا مطلقه واکمني ټينګه کړي مګر واقعيت دادې چې غرب وپوهيد چې عراق مقاومت اومقابلې ته چمتو دې اودايې درك کړه چې داتومي قوې له استعمال پرته څومره زوراووخت چې دوې دعراق د پوځي قشونو دټکولولپاره سنجولي هغه له حماقته پرته بل څه ندې دوې وپوهيدل چې دامريکا اومتحدينو لښکرې به يې له يوې هيبتناکې مقابلې اوسوزونکې جګړې سره مخامخ کيږي اوپوهيدل چې عراق دامريکا يې لښکرو مقابلې ته کومې دغرې وهي ، هغه په جنون اوتخيل‌جنني نده ، بلکې په پوښه واقعيت ، تحليلونو ، عملي تجربو اومحسوسو اومشهوروواقعيتونو ولاړتصميم دي اوامريکايان اومتحدين به يې ډيره درنده اوملاماتوونکې بيه ورکوي ، همداخبره ده چې په امريکا اوټول غرب کې دجګړې پرضد يولوي موج راپورته شوي ، دامريکا په کانګرس کې چې جمهوريت ته دجګړې دپيل دصلاحيت په ورکولو کوم بحث کيده له ورايه ترې معلوميده چې امريکايان ځان دبوې لوبې ترازيلدي په خواورتيله کيدونکې ګڼي ، کله چې ترډيرجراوبحث وروسته بوش دخپلي غوښتنې په عملي کيدوبريالي شو اوقرارداد پاس شو هيڅچا پرې دخوښۍ لاسونه ونه پړکول .

په هرحال دجګړې خطره ګړې په ګړې زياتيږي – که څه هم دفلسطين دازادي دسازمان مشر ياسرعرفات پرون خپله داخبره درې ځله تکرارکړې چې جګړه به نه کيږي خونن دجګړې داحتمال په باب دپريزدېکويارداوينا چې که په خدای باوراو عقيده لري نوبواځې هغه پوهيږي چې څه به کيږي اوکنه هيڅوك نه پوهيږي ددې امکان نورهم زيات برېښوي چې جګړه به کيدونه.

پدې وروستيو شيبو کې مهم داسې احتمالي بدلون چې وضعه به بدله کړي بواځې ، داکيداي شي چې عراق په ډيرو اخيرې لحظو کې نوردکويت پريښودل اعلان کړي اوبواځې يې په دوومهمو جزيرو باندې په سلطې زورواچوي – پدې صورت کې خو لومړي شايد دجګړې دپيل مخه ونيوله شي ځکه پوځيه امريکا تردې فشارلاندې راځي چې څنګه ددوجزيرو لپاره ټوله سيمه په اوراړوي اوبل به پوهيږي چې دعراق موضع معقوليت اومشروعيت ته ورنېږدې کيږي اوټړوال نفرت يې پرخلاف کميږي .

داکاريه دعراق لپاره ډير ګټوروې پراسلامي امت کې به ورسره اعلان شوي خواخوږي اوهمدردي څوچنده زياته شي زموږباوردادي چې که عراق دليډور انځيشې مظاهره وکړي لکه دروس زوال چې دافغانستان له جګړې پيل شو دامريکا زوال به هم دخليج له بحران اوجګړي نه شروع کيږي .

صبح پيروزی اوافغانستان د ر راديو های جهان خپرونی بندی شوی...

دعبوری حکومت دارشاد اودعوت وزارت رسمی نشراتی ارګان صبح پيروزی اودميډيا ورځنی خبری نشريه «افغانستان در راديو های جهان» خپرونی بندی شوی ، دميډيا په حواله دافغانستان درراديو های جهان په وروستی « » ګڼه کې ددی نه خپريدوعلت مالی ستونزی اومفلسی ښيی ،خوکاشکی لومړی دهغولوکسو بلهنګونو کرايی ددغه خپرونو پرځای بندی شوی وای چی خلك بيله چای اوډوډی،خوړلو بل هيڅ فعاليت نه پکی ترسره کوی .

دخليج دجګړې پرخلاف داروپا په زيات شمير هيوادونو کې مظاهری وشوې

په خپروشويو خبرونو کې ويل شوي چې په خليج کې دجګړې په خلاف دشنبې اويکشنبې په ورځو داروپا په زيات شمير ښارونو کې په لکونو ښاريانو مظاهري وکړې .

خبرزياتوي چې دمظاهري په لړکې په پاريس کې تقريباً يولك وګړومظاهره وکړه اوټولو په يوغږغوښتنه وکړه چې دخليج کړکيچ دې په سوله ايزه توګه حل شي ، همدارنګه دلندن په ګلاسکو اونوروښارونو کې لږترلږه دوه زره تنوپه مظاهرو کې برخه اخيستي وه .

همدارنګه دجرمني اوايتاليااو... څخه هم دسترووسترو مظاهرو خبرونه خپاره شوي دي .

په خوست کې دملحد رژيم ۲۸ تنه مليشيان وځپل شول

ميډيا دخوست دلويې ولسوالي څخه په يوه رپوټ کې ويلي دي چې زموږپه اسلام مينو مجاهدينو دجدي په ۱۷ نيټه دخوست دښارپه کمربندي پوستوباندي يولړ عمليات ترسره کړل .

ددې عملياتو په ترځ کې دګوډاګي رژيم ۲۸ تنه مليشيان هلاك شوي اوزيات شمير يې ټپيان شويدي.

خبرزياتوي چې زموږميړنيو مجاهدينو يوميل درنه ماشينګڼه ، يوميل راکټ اودوه ميله کلاشينکوفونه په غنيمت نيولې دي .

مجاهدينو دمزدوررژيم ۱۳۲ تنه پوځيان ...

افغان اژانس : په رارسيدلو خبرونو کې ويل شوی دی چی له روسيی څخه دسالنګ په لويه لارکابل ته پوځی اکمالاتو درسولو په اړه دروسانو دمزدوررژيم ټولی هڅی له ناکامۍ سره مخامخ شوی دی.

خبرزياتوی چی مجاهدينو په دی وروستيو ورځو کې ددښمن دقراوڅ ۱۳۲تنه ژوندی نيولی دی.

ديوبل خبر له مخی ددښمن له سختی بمبارۍ سره سره دتاشقرغان تنګی اوس هم دمجاهدينو په لاس کی دی اودبيلا بيلو عملياتو په لړ کې يې له دښمن څخه ډير پوځی مهمات په غنيمت نيولی دی.

(مهربانه خدايه په نړۍ کی سوله راولی)

په مانيلا کې په خليج کی دجګړې پرخلاف دماشومانو مظاهری

دهيئت تحرير ترنظر لاندې
مکاتباتي پته
پوست بکس (۱۰۳۳)
يونيورستي تاؤن پيښور
تيلفون :... (۴۱۷۴۶)

دقوماندانانو دسرتاسری شورا مقدماتی غونډی جريان لری

تيره پنجشنبه دقوماندانانود سرتاسری شورا دمقدماتی غونډو په لړکې دغه شورا دنظامی خانګی په ودانۍ کی دالحاج حقانی ترسرپرستۍ لاندی يوه غونډه وشوه چی پکی دافغانستان مختلفو سيمو ته دارتزاقی موادو دليږدولو په باب لازم تصميمونه ونيول شول همدارنګه دشورا دځنو جهادی فعاليتونو پر اړخ هم رڼا واچول شوه اوبياترټولو مهمه موضوع چی دقوماندانانو سرتاسری شورا په مقدماتی غونډه کی خبری وربانډی وشوې له دی چوپان ولسوالۍ نه دراماهاجروخلکو دارتزاقی اولوژستيکی ستونزو درفع کولو په باب بحث اوتصميم وُ چی زرترزره بايد له بی کوره کسانو سره لازمی مرستی وشی غونډه دغرمی په ۱۱ نيموبجو پای ته ورسيده .

تشويش امريکا ازافزايش احساسات...

تحت قيادت امريکا حمايت کرده وپنجهزارعسکر رابه عربستان سعودی فرستاده است اما حضورقوای امريکايی درخليج برای بسياری ازپاکستانيها ناخوش‌ايند ميباشد.

راديو می افزايد درواشنګتن وزارت خارجه امريکا توصيه نامه منتشرنموده وازامريکائيان خواسته است ازسفر غير ضروری به پاکستان خودداری نمايند.

همچنان وزارت خارجه ازتمام امريکائيان مقيم پاکستان ميخواهد درصورتيکه ضرورت مبرم نداشته باشند کشورراترك ګويند.

طبق اظهارنظربعضی ازمنابع

امريکا ازين تشويش دارد که باتشديد وضع درشرقميانه بعضی‌ازسازمانهادرپاکستان درصددانتقامګيری ازامريکائيها خواهند برامد .

دځينو اسلامي تنظيمونو داجرائيه شورا ديو شمير غړو يوه مهمه غونډه

دافغانستان دجهادي تنظيمونو داسلامي تحريك ممتازوغړودپنجشنبې په ورځ په ځمکنيو کې يوه پرتمينه غونډه درلوده ، غونډې ته داسلامي تحريك غړو هريو مولوي سلطان عزيز، انجنيراحمدشاه ، احمدزي انجنير عبيدالله سبرت ، مولوي ميرحمزه خبرې وکړې په پاي کې سيدنورالله عماد دخبرياالانو پوښتنو ته ځوابونه ورکړل دياددونې وړده چې داسلامي ګوندونو ځنې ممتازشخصيتونه له يوې اوږدې مودې راپه دې خوا دغه شان ګډې جلسې کوي اوموږورته دخداي ج نه داسلام اوملت دخدمت توفيق غواړو .

دصدام حسين په نوم دبش پټ ...

په خليج کې جګړه ونښلي داکاربه دعراق لپاره ډيربدعواقب ولري .

هغوي صدام حسين ته داهم څرګنداکړي ده چې موږپه دې جګړه کې دعراق اونوري نړۍ تباهي وينو.

له همدې امله عراق ته لازمه ده چې دملګرومللتونو په قراردادونو عمل وکړي اوځان له دغې تباهۍ څخه وژغوري .

******

ګورباچوف له حملی څخه منعه ...

يرغل سخته غندنه کړی او ويلی يی دی چی په دی اقدام باندی تيرې شوې خواشينی يوځل بيا راتازه کوی خوبيا هم سپينی ماڼۍ په ليتوانيا کی دروس اوسنی پوځی اقدام ته پوځی اقدام نه دی ويلی دبش اوګورباچوف په منځ کی دپنځه ويشتو دقيقو تليفونی خبرو اترو په وخت کی دا موضوع ياده کړای شوه خوزياتی خبری اتری دخليج په مسٔله وشوی .